(Published on *Institute for War and Peace Reporting* (https://iwpr.net



# د افغانستان په لویدیځ کې په زور د رایو ټولول

**Author:** Mustafa Alokozai
د غور ولایت رایه ورکوونکي وايي، ځايي زورواکو هغوی ډارولي چې له ملاتړو نوماندانو سره يې د مرستې ژمنه وکړي.

**په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر د خبریال، مصطفی الکوزي لیکنه**

تابان تر گلدار پورې لاندې له یخن ربردي. هغه په چغچران کې د رايې ورکولو د کارت د اخیستلو لپاره په اوردې لیکې کې ولاړه ده.

نوموړې اویا کلنه مېرمن د ژمي په یخن کې له یو شمېر نورو ښځو سره په موټر کې د غور ولایت مرکز چغچران ته ورل شوې چې د اپریل د میاشتې په ولسمشریزو او د ولایتي شوراگانو په ټاکنو کې د رايې ورکولو اسناد تر لاسه کړي.

په لیکه کې ولاړې مېرمنې ډارېدلې چې وبه نه کړای شي په ازاد ډول ورته د رايې ورکولو حق ورکړل شي.

په لیکه کې ولاړې یوې مېرمنې، گل عروس ویل، د رایې ورکولو کارت به ورڅخه ځايي زورواکی واخلي او د هغې پرځای به رایه ورکړي.

گل عروس وویل: "کشکې یو ښه نوماند ته مې رایه ورکولی شوای، چې امنیت یې ټینگ کړی او د ظلم مخه يې نیولی وای. خو په هغه ځای کې چې زه اوسیږم، څوک مې دې کار ته نه پرېږدي. زورواکي وسله وال افراد زموږ برخلیک ټاکي. هغوی وايي، څوک، چې موږ یې درته ښیو، باید همغه شخص ته رایه ورکړئ، که نه، نو له سختې سزا سره به مخامخ شئ."

ځايي چاروواکو او د بشري حقونو ډلو په غور کې د ډارونې او زورزیاتي د کچې له امله ټکان خوړلی دی. د هغوی د ادعا له مخې د اپریل د پنځمې نېټې ولسمشریزي او ولایتي شوراگانو ټاکنې له پیله درغلې دي.

د غور ولایت اوسیدونکي وایي وسله والې ډلې د ځایي خلکو د رایې ورکولو کارتونه ټولوي او فوتوکاپي کوي یې. وروسته دا کاپیگانې په دې ژمنه نوماندانو ته ورکول کیږي، چې د ټاکنو په ورځ به د هغوی په گټه خپل کارت کاروي. د رايې ورکولو د کارتونو خاوندانو ته گوته څنډل شوې، چې که دا کار ونه کړي، له تاوتریخوالي سره به مخامخ شي.

د غور ولایت د شهرک ولسوال اوسیدونکي، ۲۵ کلن امیر محمد د ظلم څرنگوالی بیان کړ.

هغه وویل: "ځايي قوماندانان د رايې ورکولو د کارتونو کاپیگانې اخلي او گواښوي مو، چې د هغوی د خوښې نوماند ته رایه ورکړو. هغوی موږ ته گوته څنډلې چې که نورو نوماندانو ته رایه ورکړو، نو زموږ د کارتونو د کاپیگانو له مخې به معلومات لاسته راوړي او په دې توگه به موږ او زموږ کورنیو ته زیان ورسوي."

د دولیانې د ولسوال اوسیدونکي، گلخان زیاته کړه: "ځايي قوماندانان او مشران د رايې ورکولو ور خلک پېژني. که خلک و نه غواړي چې د رايې ورکولو کارت واخلي او یا خپل د خوښې نوماند ته رایه ورکړي، نو و به وژل شي."

د نوموړي ولایت د ټاکنو د خپلواک کمیسون د عامه اړیکو کارکوونکي، عبدالحبیب عزیزي د دې پخلی وکړ چې ځايي زورواکان په زوره د خلکو د رايې ورکولو کارتونه ټولوي.

عزیزي ونشو کړای ووايي، چې پر څومره ښځو باندې رایې ورکول تحمیل شوي، خو ویې ویل، نارینه رایه ورکوونکي هم د وسله والو ډلو تر فشار لاندې دي.

هغه وویل، تر اوسه پورې ۳۲ زره ښځو د رايې ورکولو کارتونه ترلاسه کړي. دا د دې معنا لري چې د ټولو رایو ورکوونکو په ډله کې ٤٠ سلنه ښځې دي.

عزیزي وویل، د ټاکنو خپلواک کمیسون به په هغو سیمو کې، ترهغه چې حکومتي ځواکونو پکې امنیت خوندي کړی نه وي، د رایو ورکولو مرکزونه پرانه نیزي.

عزیزي وویل: "د غور په ولایت کې د رایو ورکولو ۲۸۱ مرکزونه موجود دي. څه دباندې پنځوس يې له جدي امنیتي گواښونو سره مخامخ دي."عزیزي د لسو ولسوالیو نومونه واخیستل، چې پکې د شهرک، دولیانې، پساوند، دولتیار، چارسده او د چغچران یو څه برخې شاملې دي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون هم تاییدوي، د غور ولایت جنگ سالاران هر هغه څوک گواښوي چې د هغوی د خوښې نوماند ته رایه ورنه کړي.

په غور کې د بشري حقونو د خپلواک کمیسون مشر، جواد رضایي آی ډبلیو پي آر ته وویل، موږ د دې وضعې له امله اندېښمن یو. زیاتره دا زورواکان په پارلمان کې د غور ولایت د استازو او همدارنگه د کابینې د وزیرانو ملاتړ لري. له دې أمله ځايي چارواکي دا ستونزه نشي هوارولای.

هغه وسله والې ډلې چې ستونزې رامنځته کوي، طالبان نه دي، چې له سره د ټاکنو مخالف دي او مخنیوی یې کوي، نه دا چې پایلې یې تر اغېز لاندې راولي. دا د ملېشوهغه پاتې شونې ډلې دي چې په ۱۹۹۰ کلونو کې په فعالیت بوختې وې او په خپلو منځونو او له طالبانو سره په جگړو لگیا وو. له ۲۰۰۱ کال څخه په راوروسته افغانستان کې هغوی باید بېوسلې شوی او عادي ژوند ته ورگرځېدلی وای. په هغو ډلو کې چې هغوی تنظیم شوي وو، وروسته منحلې شوې او یا هم سیاسي گوندونه ترې جوړ شول. خو "ناقانونه وسله والې ډلې"، لکه څنگه چې نومول شوي، لا تر اوسه په زیاترو سیمو کې موجودې دي. (وگورئ: د غور جنگ سالاران له ښځو سره په تاوتریخوالي تورن دي.)

آی ډبلیو پي آر موندلې چې په یو شمېر سیمو کې د رایو ورکولو کارتونه ټاکلو نوماندانو ته ټول شوي دي. ځینې ډلې ځانونه، د ډاکټر عبدالله عبدالله او عبدالرب رسول سیاف په ګډون ولسمشر□ ته په نوماندانو او یا د سیاف د مرستیال، اسمعیل خان پورې تړي. نور په پیسو اخیستل شوي قوماندانان هغه په لوړه بیه پلوري.

په غور کې د مدني ټولنې یو فعال، محمد حسن حکیمي وویل، ملېشه يي ډلو له هغه وروسته د رایو د کارتونو په ټولولو پیل وکړ چې په تېر [میلادي] کال کې د ولسمشریزو نوماندانو وروستنی لست اعلان شو.

هغه وویل، یو شمېر نوماندانو دمخه تر هغه چې د قانون له مخې په کمپاین لاس پورې کړي، له خلکو څخه په رایو غوښتلو پیل وکړ. رسمي کمپاین د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د فبرور□ د میاشتې په دویمه او د ولایتي شوراګانو لپاره د مارچ په څلورمه پیلیږي.

حکیمي وویل: "د [نوماند] ولسمشر یو متنفذ مرستیال د غور ولایت خلک هرات ته وربللي وو، چې د راتلونکو ټاکنو په اړه ورته وینا واوروي او وروسته یې [په خپله ګټه] وکاروي."حکیمي وویل، له وخته مخکې ټاکنیز کمپاین به د بهیر روڼتوب (شفافیت) تر سیوري لاندې راولي.

د غور ولایت لویدیځ ته د هرات د ولایتي شورا مشر، سید وحید قتالي وویل، په ګاونډي ولایت، غور کې د وسله والو ډلو فعالیتونو ټاکنو ته ستر ګواښ پېښ کړی دی.

هغه وویل: "ځینو معلومو مشرانو، حکومتي وزیرانو او متنفذینو له دې زورواکانو سره نژدې اړیکې ټینګې کړي چې یوه ورځ یې په کار راشي. دا ورځ اوس راتلونکې ده."

د هرات والي، سید فضل الله واحدي د دې خبرې پخلی وکړ چې په نوموړي ولایت کې د ولسشمریزو او ولایتي شوراګانو لپاره لا له وړاندې کمپاینونه پیل شوي دي. هغه ګوته وڅنډله، که دا کار دوام وکړي، نو د هغوی د کمپاین دفترونه به وتړل شي.

د غور ولایت د امنیې قوماندان، دلاورشاه دلاوري ټینګار وکړ، پولیس به چاته اجازه ورنه کړي چې د ټاکلو نوماندانو په ګټه د رایو ورکولو کارت وکاروي.

هغه وویل: "موږ پوهیږو چې زورواکي افراد به هڅه وکړي د خلکو رایې واخلي، خو موږ به ورته اجازه ورنه کړو چې دې کار ته ورسیږي."

ځایي خلک دا ژمنې هغومره نه مني.

د چغچران د ولسوال□ د اخته خان□ سفلا یو تن اوسیدونکي، چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي، وویل: "په تېرو ټاکنو کې زورواکي د رایو ورکولو د بکسونو په سر ولاړ وو چې په خلکو زور راوړي رایې د هغوی نوماندانو ته ورکړي. سره له دې چې په سیمه کې پولیس موجود وو، خو له ډاره یې هغوی ته څه نشو ویلای. دا کار به بیا تکرار شي او پولیس به ونه کړای شي د دې زورورو مخه ونیسي."

ګلخان دا مني، داسې څوک نه و چې د ملېشو په وړاندې ودریږي.

هغه وویل: "دلته له خلکو سره د مېرو (پسونو) په څېر چلن کیږي. هغوی دې قصابانو برمته کړي دي. دلته د قانون حاکمیت نشته. هر خپل سری قوماندان د خپلو شخصي ګټو له مخې خپل قانون چلوي. هغوی خپل ځانونه قانون، قانونپوه او قاضي بولي. پولیس نشي کولای د دې زورورو خلکو په وړاندې وجنګیږي. زموږ ټولې هیلې په اوبو لاهو شوې دي."

د ګل عروس په څېر رایه ورکوونکي اوس له یوه ناشوني حالت سره مخامخ دي. هغې وویل: "زه که د زورواکانو په هېلو پسې لاړه شم او کوم ظالم ته رایه ورکړم، نو ځان به ګناهکاره وګڼم، ځکه په جنایت کې به شریکه شم. خو بله کومه چاره نه لرم، پرته له دې چې رایه ورکړم."

**مصطفی الکوزی په غور کې د آی ډبلیو پي آ رله خوا یو روزل شوی خبریال دی.**

**Location:** افغانستان
**Topic:** Elections

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D9%BE%D9%87-%D9%84%D9%88%D9%8A%D8%AF%D9%8A%DA%81-%DA%A9%DB%90-%D9%BE%D9%87-%D8%B2%D9%88%D8%B1-%D8%AF-%D8%B1%D8%A7%D9%8A%D9%88-%D9%BC%D9%88%D9%84%D9%88%D9%84